# قرنتيانو ته د پولوس رسول لومړی ليک

## د کتاب پېژندنه

پولوس رسول دا ليک په قرنتوس ښار کې د عيسی مسيح پيروانو ته ليکلی دی. د پولوس په وخت کې قرنتوس يو د لويو او مشهورو يوناني ښارونو څخه ؤ چې بېلابېل قومونه په کې اوسېدل. دا ښار د خپلې سوداګرۍ، يوناني دود او دستور، بې حده عيش او عشرت، اخلاقي فساد او د مختلفو مذهبونو او فلسفو د شتون له امله مشهور شوی ؤ.

د مسيحيانو ټولنه چې کليسا نومېږي، د قرنتوس په ښار کې د پولوس د خدمت او زيار رسونې په نتيجه کې پرانيستل شوې وه (د رسولانو عملونه ۱۸ فصل وګورئ). په دې ليک کې پولوس د هغو پوښتنو په اړه بحث کوي چې د قرنتوس ايماندارانو د عيسوي ژوند او عقيدوي موضوعګانو په اړه درلودلې.

د پولوس اصلي اندېښنه د ځينيو ستونزو په اړه وه لکه بې اتفاقي، د کليسا د غړو ترمنځ اخلاقي فساد، د واده او نامشروع جنسي اړيکو په اړه پوښتنې. هغه همدا شان د وجدان په موضوع، په کليسا کې د نظم او د روح القدس د ډالۍ په اړه ځيني شيان ليکلي دي. پولوس د مړو څخه د عيسی مسيح د بيا ژوندي کېدلو په اړه هم تعليم ورکوي او دا چې د دې حقيقت پوهېدل څومره مونږ ته اميد راکوي. پولوس د خدای د کلام په ښه پوهېدلو سره ښايي چې د عيسی مسيح پيغام څنګه دا ډول پوښتنو ته ځوابونه ورکوي.

د دې ليک ديارلسم فصل په ځانګړې توګه شهرت لري. په دې فصل کې مينه د غوره الهي ډالۍ په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه معرفي شوې ده چې خدای يې خپلو ايماندارانو ته ورکوي.

## د موضوعګانو لست

د ليک سريزه: ۱:۱–۹
په کليسا کې بايد بې‌اتفاقي نه وي: ۱:۱۰ – ۴:۲۱
د ايماندار دپاره په کور او ټولنه کې د ښو اخلاقو لرل: ۵ – ۷ فصلونه
د هغو خوړو په اړه پوښتنې چې بتانو ته وړاندې کيږي: ۸:۱ – ۱۱:۱
د عبادت د طريقو په اړه لارښوونې: ۱۱:۲ – ۱۴:۴۰
د مسيح او د مړو بيا راژوندي کېدل: ۱۵ فصل
د محتاجو ايماندارانو دپاره د مالي مرستو راټولول: ۱۶:۱–۴
د راتلونکي سفر دپاره د پولوس نقشه او وروستي پيغامونه او حکمونه: ۱۶:۵–۲۴

۱ ۱ دا ليک د پولوس له خوا دی چې د خدای د ارادې له مخې ورته بلنه ورکړل شوه چې د
عيسی مسيح رسول وي او همدارنګه زمونږ د ورور سوستينيس له خوا نه ۲ د خدای کليسا ته
چې په قرنتوس کې ده، يعنې هغو خلکو ته چې د عيسی مسيح په نوم سپېڅلي شوي دي او د
خدای له خوا ورته بلنه ورکړل شوې ده چې د هغه سپېڅلي خلک اوسي او هغو ټولو ته چې په
هرځای کې د عيسی مسيح نوم چې د هغوی او زمونږ څښتن دی، يادوي. ۳ زمونږ د پلار خدای
او څښتن عيسی مسيح فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## شکرګزاري

۴ زه تل د هغه فضل په خاطر چې خدای د عيسی مسيح په وسيله په تاسو باندې وکړ، شکر
وباسم. ۵ ځکه چې د مسيح په وسيله خدای تاسو په هر لحاظ او په هر ډول خبرواترو او پوهه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې شتمن کړي يئ. ۶ له دې امله د مسيح په هکله زمونږ شاهدي په تاسو کې ثابته شوه. ۷
په داسې حال کې چې تاسو زمونږ د څښتن عيسی مسيح بېرته راتللو ته سترګې په لاره يئ، نو
تاسو سره د روحاني نعمتونو هېڅ کمی نشته. ۸ خدای به تاسې تر اخره پورې ټينګ وساتي،
ترڅو زمونږ د څښتن عيسی مسيح د راتللو په ورځ بې‌عيبه اوسئ. ۹ خدای په خپله وعده
وفادار دی، هغه تاسو رابللي يئ چې د هغه د زوی يعنې زمونږ د څښتن عيسی مسيح سره شراکت
ولرئ.

## په کليسا کې بايد بې‌اتفاقي نه وي

۱۰ ای خويندو او ورونو! زمونږ د څښتن عيسی مسيح په نوم ستاسو نه غوښتنه کوم څه چې
وايئ په هغو کې سره جوړ راشئ او ستاسو په منځ کې دې بې‌اتفاقي نه وي، بلکې په يو فکر او يو
مقصد يو د بله سره يووالی ولرئ. ۱۱ ځکه چې ای خويندو او ورونو! د خلويي خور د کورنۍ
ځينو خلکو ماته خبر راکړ چې ستاسو په منځ کې شخړې رواني دي. ۱۲ زما مقصد دا دی چې
ستاسو څخه يو وايي: «زه د پولوس پيروي کوم» او بل وايي: «زه د اپولوس پيروي کوم» او بل
وايي: «زه د پطروس پيروي کوم» او بل وايي: «زه د مسيح پيروي کوم.» ۱۳ ايا مسيح په ډلو
باندې ووېشل شو؟ ايا پولوس ستاسو دپاره په صليب باندې ځوړند کړای شو؟ ايا تاسو د پولوس په
نوم د تعميد غسل اخيستی دی؟

۱۴ زه د خدای شکر کوم چې پرته له کرسپوس او ګايوس نه ما په تاسو کې بل چاته د تعميد
غسل نه دی ورکړی. ۱۵ نو بيا هېڅوک نه شي کولای ووايي چې تاسو زما د شاګردانو په توګه د
تعميد غسل اخيستی دی. ۱۶ هو، ما د استيفان کورنۍ ته هم د تعميد غسل ورکړی دی، خو نور
زما په ياد نه دي چې بل چاته به مې د تعميد غسل ورکړی وي. ۱۷ ځکه چې مسيح زه د دې
دپاره نه يم رالېږلی چې د تعميد غسل ورکړم، بلکې د دې دپاره يې رالېږلی يم چې زېری ورسوم او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا نه چې زه په انساني حکمت سره خبرې وکړم، هسې نه چې د مسيح د صليب قدرت بېاثره شي.

## مسيح د خدای قدرت او حکمت دی

۱۸ د صليب پيغام د هغو خلکو دپاره چې تباه کېدونکي دي، بېمعنی دی. خو زمونږ دپاره چې
خلاصون مومو، دا د خدای قدرت دی. ۱۹ ځکه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

زه به د حکيمانو حکمت له منځه يوسم او د هوښيارانو پوهه به باطله کړم.

۲۰ نو هغه حکيم چېرته دی؟ هغه عالم چېرته دی؟ يا د دې نړۍ تکړه بحث کوونکی چېرته دی؟
ايا خدای نه دي ويلي چې د دې نړۍ حکمت بېمعنی دی؟

۲۱ ځکه چې خدای د خپل حکمت له مخې دا پرېکړه کړې ده چې د نړۍ خلک ونه شي کولای
چې په خپل حکمت سره هغه وپېژني، بلکې د هغه خوښه وه چې يوازې هغو خلکو ته خلاصون
ورکړي چې په هغه بېمعنی پيغام باندې ايمان لري چې مونږ يې وعظ کوو. ۲۲ ځکه چې يهوديان
معجزې غواړي او يونانيان د حکمت په لټه کې دي. ۲۳ خو کله چې مونږ د صليب شوي مسيح
په هکله وعظ کوو، يهوديان خفه کيږي او د غيريهوديانو دپاره بېمعنی دی. ۲۴ خو کوم کسان
چې خدای ورته بلنه ورکړې ده، که هغه يهوديان دي يا يونانيان، د دواړو دپاره مسيح د خدای
قدرت او د خدای حکمت دی. ۲۵ ځکه هغه څه چې د خدای په هکله کمعقلي ګڼل کيږي، هغه د
انسان د حکمت نه ډېر اوچت دی او هغه څه چې خلک يې د خدای کمزوري ګڼي، هغه د انسان د
قدرت نه ډېر زورور دی.

۲۶ ای خويندو او ورونو! په ياد ولرئ، مخکې له دې چې خدای تاسو ته بلنه درکړي تاسو څه
ډول خلک وئ. د دې نړۍ د معيارونو له مخې په تاسو کې ډېر خلک نه ډېر هوښيار وو، نه زورور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه د کوم لوړ مقام خاوندان وو. ۲۷ خو خدای هغه شیان غوره کړل چې د دنیا خلک یې
بې‌معنی ګڼي، ترڅو هوښیاران وشرموي او هغه شیان یې غوره کړل چې د دنیا خلک یې کمزوري
ګڼي، ترڅو زورور خلک وشرموي. ۲۸ خدای هغه شیان غوره کړل چې د نړۍ خلک یې
کمزوري، سپک او حتی هغه په هېڅ حسابوي، ترڅو هغه شیان باطل کړي چې د انسان په فکر مهم
دي. ۲۹ ترڅو هېڅ انسان د خدای په حضور کې په خپل ځان ویاړ ونه کړي. ۳۰ خدای تاسو
د مسیح سره یو کړېځ. هغه یې زمونږ دپاره حکمت وګرځاوه. د هغه په وسیله مونږ د خدای په
وړاندې عادل وګڼل شولو، مونږ یې پاک او سپېڅلي کړو او د ګناه نه یې خلاص کړو. ۳۱ نو لکه
څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

که څوک وغواړي چې ویاړ وکړي، نو په څښتن باندې دې ویاړ وکړي.

## د صلیب شوي مسیح په هکله پیغام

۲ ۱ ای خویندو او ورونو! کله چې زه تاسو ته د خدای د پټ راز د وعظ دپاره راغلم، نو
تاسو ته زما وینا ډېره اوچته او د حکمت له مخې نه وه. ۲ کله چې زه تاسو سره وم، نو دا
پرېکړه مې وکړه چې تاسو ته به پرته د عیسی مسیح او په صلیب باندې د هغه د مړینې نه د بل هیڅ
شي په هکله وعظ ونه کړم. ۳ زه تاسو ته په کمزورۍ، وېرې او لړزېدلو سره راغلم ۴ او زما
وینا او پیغام د انساني حکمت او هڅوونکو خبرو له مخې نه، بلکې د روح القدس د قدرت د ښودلو
له مخې ؤ. ۵ ما داسې وکړل ترڅو ستاسو ایمان د انساني حکمت په بنیاد نه، بلکې د خدای په
قدرت سره ټینګ وي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ بیاهم مونږ د هغو خلکو په منځ کې د حکمت خبرې کوو چې په روحاني لحاظ بالغ دي، خو
دا د دې نړۍ او یا د دې نړی د حاکمانو حکمت نه دی چې د تباهۍ خواته روان دي. ۷ بلکې
مونږ د خدای د هغه پټ حکمت د راز په هکله خبرې کوو چې خدای د نړی د جوړولو نه مخکې
زمونږ د سرلوړی دپاره ټاکلی ؤ. ۸ خو د دې دنیا د حاکمانو څخه هېڅ یو یې په دې حکمت
باندې پوه نه شو، ځکه که چېرې هغوی پوهېدلی نو عیسی مسیح چې د جلال خاوند دی، په صلیب
باندې ځوړند کړی نه وای. ۹ خو لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

څه چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د انسان په زړه کې تېر شوي دي، خدای هغه د
هغو خلکو دپاره تیار کړي دي چې د هغه سره مینه کوي.

۱۰ خو خدای دا شیان مونږ ته د خپل روح په وسیله ښکاره کړي دي. ځکه چې د هغه روح د
ټولو شیانو او حتی د خدای د ډېرو ژورو او پټو مقصدونو په لټه کې دی. ۱۱ ځکه څوک کولای
شي چې د بل انسان د خیالونو څخه خبر شي، پرته د هغه له روح نه چې په هغه کې دی؟ په همدې
ډول پرته د خدای له روح څخه هېڅوک نه شي کولای چې د خدای په خیالونو باندې پوه شي.
۱۲ خو مونږ دنیاوي روح نه دی ترلاسه کړی، بلکې هغه روح مو ترلاسه کړی دی چې د خدای
له خوا دی، ترڅو هغه شیان وپېژنو چې خدای مونږ ته وړیا راکړي دي.

۱۳ مونږ د هغو شیانو په هکله خبرې نه کوو چې انساني حکمت مونږ ته رازده کړي دي، بلکې په
هغو خبرو کې یې بیانوو چې روح القدس راته زده کړي دي او په دې ډول روحاني حقیقتونه هغو
خلکو ته بیانوو چې روحاني دي. ۱۴ خو څوک چې روحاني نه دی، نو هغه د خدای د روح
حقیقتونه نه مني، ځکه چې د هغه په نظر دا بېعقلي ده. هغه نه شي کولای چې په هغو باندې پوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي، د دې دپاره چې په دې ډول تعليم باندې د پوهېدلو په خاطر روحاني قضاوت ته اړتيا ده. ۱۵
روحاني شخص کولای شي چې د ټولو شيانو په هکله قضاوت وکړي، خو هېڅوک نه شي کولای د
هغه په هکله قضاوت وکړي. ۱۶ ځکه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

څوک کولای شي چې د څښتن په فکرونو باندې پوه شي او څوک کولای شي چې هغه ته مشوره
ورکړي؟

خو مونږ په دې شيانو باندې پوهيږو، ځکه چې د مسيح په شان فکر کوو.

## د خدای خدمتګاران

۳ ۱ ای خويندو او ورونو! ما تاسو سره لکه د روحاني خلکو په شان خبرې ونه کړای شوې،
بلکې تاسو سره مې داسې خبرې وکړې لکه د دې نړۍ د خلکو سره چې مې وکړې يعنې لکه د هغو
کسانو په شان چې په مسيح باندې په ايمان کې لا تراوسه ماشومان دي. ۲ ما تاسو په شيدو
باندې ماړه کړئ، نه په سختو او کلکو خوړو باندې، ځکه چې تيار نه وئ چې سخت خواړه
وخورئ. اوس هم ورته تيار نه يئ، ۳ ځکه چې تاسو لا تراوسه هم د انساني فطرت د غوښتنو
په اختيار کې يئ. په تاسو کې اوس هم کينه او شخړې شته، ايا دا د دې څرګندوونکې نه ده چې
تاسو اوس هم نفساني يئ؟ ايا ستاسو چلند لکه د دې نړۍ د خلکو په شان نه دی؟ ۴ ځکه کله
چې يو وايي: «زه د پولوس پيروي کوم.» او بل وايي: «زه د اپولوس پيروي کوم.» نو ايا تاسو لکه د
دې نړۍ د خلکو په شان عمل نه کوئ؟

۵ نو بيا اپولوس څوک دی؟ پولوس څوک دی؟ مونږ يوازې خدمتګاران يو چې څښتن هر يو
ته ځانګړې دنده ورسپارلې ده، ترڅو تاسو د هغوی په وسيله ايمان راوړئ. ۶ ما وکرل، اپولوس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوبه ورکړې، خو خدای راشنه کړل. ۷ نو بیا نه هغه څوک مهم دی چې کري یې، نه هغه څوک
چې اوبه ورکوي، بلکې یوازې خدای دی چې شنه کوي یې. ۸ څوک چې کرنه کوي او څوک
چې اوبه ورکوي، دواړه یو برابر دي، خو هر یو به د خپل کار له مخې خپل اجر ترلاسه کوي. ۹
ځکه چې مونږ خدای ته په خدمت کولو کې سره همکاران یو. تاسو د خدای د کروندې ځمکه او
هغه ودانۍ یئ چې خدای ورباندې کار کوي.

۱۰ د هغه فضل له مخې چې خدای ماته راکړ، ما لکه د یو ماهر ګلکار په شان بنیاد کېښود او کوم
بل څوک ورباندې ودانۍ جوړوي. خو هر یو دې پام وکړې چې څنګه یې جوړ کړي. ۱۱ ځکه
چې هېڅوک نه شي کولای چې بل بنیاد کېږدي، پرته له هغه بنیاد نه چې اېښودل شوی دی او هغه
بنیاد عیسی مسیح دی. ۱۲ که چېرې څوک په هغه بنیاد باندې د سرو زرو، سپینو زرو، قیمتي
تیږو، لرګیو، واښو او بوسو څخه کار واخلي، ۱۳ د هرچا کار به ښکاره شي، ځکه چې د قضاوت
ورځ به هغه وښایي. هغه به د اور په وسیله ښکاره شي او اور به هغه وازمايي چې څه ډول کار یې
کړی دی. ۱۴ که چېرې هغه کار چې چا په دې بنیاد باندې کړی دی پاتې شي، نو هغه کس به
اجر ترلاسه کړي. ۱۵ خو که چېرې هغه کار په اور له منځه لاړ شي، نو هغه ته به تاوان ورسيږي،
خو په خپله به وژغورل شي لکه څوک چې د اور د لمبو نه خلاص شي.

۱۶ ایا په دې نه پوهېږئ چې تاسو د خدای کور یئ او د خدای روح په تاسو کې اوسیږي؟ ۱۷
که څوک د خدای کور خرابوي، نو خدای به هغه تباه کړي، ځکه چې د خدای کور سپېڅلی دی او
هغه کور په خپله تاسو یئ.

۱۸ خپل ځان مه غولوئ. که چېرې په تاسو کې څوک خپل ځان په دې نړۍ کې هوښیار ګڼي، نو
لومړی باید خپل ځان کمعقل وګڼي، ترڅو په رښتیا هوښیار شي. ۱۹ ځکه چې د دې نړۍ
حکمت د خدای په نظر کې بېمعنی دی. لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای هوښیاران په خپلې چالاکۍ کې راګیروي.

۲۰ او بیا لیکل شوي دي:

څښتن پوهیږي چې د هوښیارانو خیالونه باطل او پوچ دي.

۲۱ نو بیا تاسو په هغو کارونو باندې چې انسان یې کوي، ویاړ مه کوئ. ځکه چې هرڅه ستاسو
دي، ۲۲ که پولوس وي یا اپولوس یا پطروس وي، که نړۍ وي، که ژوند یا مرګ، که اوسنی
وخت وي او یا راتلونکی وخت وي، دا ټول ستاسو دي ۲۳ او تاسو د مسیح یئ او مسیح د
خدای دی.

## د مسیح رسولان

۴ ۱ تاسو باید موږ د مسیح خدمتګاران او د خدای د پټو رازونو ناظران او ساتونکي وګڼئ.
۲ تر ټولو مهمه دا چې ناظران باید وفادار وي. ۳ دا زما دپاره دومره مهمه خبره نه ده چې
تاسو یا کومه انساني محکمه زما په هکله قضاوت وکړي. زه حتی د خپل ځان په هکله هم قضاوت
نه کوم. ۴ که څه هم زه په خپل ځان کې کومه غلطي نه وینم، خو دا په دې معنی نه دی چې زه
بې ګناه یم. دا څښتن دی چې زما په هکله قضاوت کوي. ۵ نو له دې امله د وخت نه مخکې د
نورو په هکله قضاوت مه کوئ، بلکې د څښتن د راتللو تر وخته انتظار وکړئ. ځکه چې څښتن به
هغه څه چې په تیاره کې پټ دي، په رڼا کې ښکاره کړي او د انسان د زړه مقصدونه به راڅرګند
کړي. په هغه وخت کې څوک چې د ستاینې وړ دی، نو خدای به د هغه ستاینه وکړي.

۶ ای خویندو او ورونو! ما د دې مثالونو څخه د خپل ځان او اپولوس په هکله ستاسو د ګټې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره کار واخیست، ترڅو تاسو زمونږ په وسیله د دې خبرو په معنی پوه شئ: «څه چې لیکل شوي
دي د هغې نه زیات څه مه وایئ» ترڅو تاسو د یو کس صفت ونه کړئ او بل ته په سپکه سترګه
ونه ګورئ. ۷ ته چا د نورو نه لوړ ګڼلی یې؟ ایا ته چې هرڅه لرې هغه خدای درکړي نه دي؟ بیا
دا هرڅه چې خدای درکړي دي، نو بیا ولې په دې ویاړ کوې چې ګوندې تا په خپله لاسته راوړي
دي؟

۸ ایا تاسو فکر کوئ هرڅه چې تاسو غوښتل هغه مو له مخکې نه ترلاسه کړي دي؟ ایا فکر
کوئ چې له مخکې نه شتمن شوي یئ؟ ایا فکر کوئ چې زمونږ نه پرته پاچاهان شوي یئ؟ کاشکې
تاسو د پخوا نه پاچاهي کولای، ترڅو مونږ هم ستاسو سره په پاچاهۍ کې شریک وای. ۹ خو د
هغې په ځای ماته داسې ښکاري چې خدای مونږ رسولان لکه د جنګي بندیانو په شان چې په مرګ
باندې محکوم شوي وي او د قطار په اخر سر کې ولاړ وي، ننداري ته وړاندې کړي یو، چې ټوله
نړۍ د فرښتو او انسانانو سره زمونږ سیل وکړي.

۱۰ مونږ د مسیح په خاطر کم‌عقل ګڼل کیږو، خو تاسو په مسیح کې ډېر هوښیار یئ! مونږ
کمزوري یو، خو تاسو غښتلي یئ! ستاسو عزت کیږي، خو مونږ ته په سپکه سترګه کتل کیږي. ۱۱
تراوسه هم مونږ وږي او تږي یو، مونږ زاړه او شلېدلي کالي اغوستي دي، مونږ وهل کیږو او بې‌کوره
یو. ۱۲ مونږ په خپلو لاسونو باندې کار کوو او زحمت وباسو. کله چې خلک مونږ ته ښکنځلې
کوي، نو مونږ ورته برکت غواړو. کله چې مونږ ځوروي، نو مونږ یې زغمو. ۱۳ کله چې مونږ
بدناموي، نو ورته په مهربانۍ ځواب ورکوو. مونږ اوس هم لکه د نړۍ د چټلیو او د ټولو شیانو د
پاتې شونو په شان یو.

۱۴ زه دا شیان د دې دپاره نه لیکم چې تاسو وشرمیږئ، بلکې تاسو ته د خپلو ګرانو اولادونو په
شان نصیحت کوم. ۱۵ که څه هم تاسو په مسیح کې بې‌شمېره استاذان لرئ، خو تاسو یو روحاني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پلار لرئ. ځکه چې په عيسی مسيح کې زه تاسو ته د زيري رسولو په وسيله ستاسو پلار شوم.
۱۶ نو زه ستاسو نه غوښتنه کوم چې زما د مثال نه پيروي وکړئ. ۱۷ له همدې امله ما تاسو ته
تيموتاوس درولېږه. هغه په څښتن کې زما ګران او وفادار زوی دی. هغه به تاسو ته در په ياد کړي
چې زه څنګه د عيسی مسيح پيروي کوم، لکه څنګه چې زه په هرځای کې او په هره کليسا کې
تعليم ورکوم.

۱۸ خو په تاسو کې ځيني مغروره شول او فکر کوي چې ګوندې زه تاسو ته نه درځم. ۱۹ خو
که د څښتن رضا وي، نو زه به زر تاسو ته درشم او نه يوازې دا چې د هغو مغرورو خلکو خبرې
واورم، بلکې د هغوی قدرت هم ووينم. ۲۰ ځکه چې د خدای پاچاهي يوازې په خبرو کې نه،
بلکې په قدرت کې ده. ۲۱ نو تاسو څه غواړئ؟ ايا د کوتک سره درشم يا په مينه او نرمی سره؟

## د کليسا څخه جنسي بداخلاقي لېرې کړئ

**۵** ۱ په رښتيا زه خبر شوی يم چې ستاسو په منځ کې جنسي بداخلاقي کيږي او داسې
بداخلاقي چې حتی په بې‌ايمانانو کې هم نه ليدل کيږي. ما اورېدلي دي چې په تاسو کې يو سړی
دی چې د خپلې مېرنۍ مور سره خملي. ۲ او تاسو وربانديې وياړ کوئ! ايا تاسو ته لازمه نه ده
چې غمجن شئ او هغه چا چې دا کار کړی دی هغه د خپلو ملګرو د ډلې نه وشړئ؟ ۳ که څه
هم زه په جسماني توګه ستاسو سره نه يم، خو په روحاني توګه ستاسو سره يم. که چېرې زه ستاسو
سره وای، نو ما به د هغه کس په هکله چې داسې کار يې کړی دی، له مخکې نه دا قضاوت کړی
وای. ۴ کله چې تاسو د څښتن عيسی په نوم سره راټول شئ او زه درسره په روحاني توګه
موجود يم، نو زمونږ د څښتن عيسی مسيح په قدرت سره، ۵ تاسو بايد هغه سړی شيطان ته
وسپارئ چې د هغه جسماني فطرت له منځه لاړ شي، ترڅو روح يې د څښتن تر ورځې پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وژغورل شي.

۶ په دې هکله ستاسو وياړ ښه نه دی. ايا تاسو نه پوهېږئ چې لږه خميره ټول اوړه خميره
کوي؟ ۷ نو که چېرې تاسو غواړئ چې د فطيرو اوړو په شان تازه شئ، لکه څنګه چې په رښتيا
يئ، نو هغه زړه خميره چې جسماني فطرت دی د ځان نه لېرې کړئ. ځکه چې زمونږ د فسحې د
اختر ورى چې مسيح دی، زمونږ دپاره قرباني شوی دی. ۸ نو راځئ چې دا اختر ولمانځو، خو
د کينې او بدۍ د زړې خميره شوې ډوډۍ سره نه، بلکې د اخلاص او رښتينولۍ د فطيرې ډوډۍ
سره.

۹ ما تاسو ته په خپل ليک کې ليکلي وو چې د هغو خلکو سره ملګرتيا مه کوئ چې په جنسي
لحاظ بداخلاقه وي. ۱۰ خو زما مقصد بلکل دا نه ؤ چې تاسو د دې نړۍ د بداخلاقه خلکو،
حريصانو، چلبازانو او بت‌پرستانو سره کار مه لرئ. ځکه په دې صورت کې به تاسو مجبور وای
چې دا نړۍ پرېږدئ. ۱۱ خو زما مقصد دا ؤ چې د هغه چا سره ملګرتيا مه کوئ چې ځان ته
ايماندار وايي او په داسې حال کې چې هغه په جنسي لحاظ بداخلاقه، حريص، بت‌پرست، نورو ته
ښکنځلې ويونکی، شرابي يا چلباز وي. د داسې کس سره حتی ډوډۍ هم مه خورئ. ۱۲ ځکه
چې زه د غيرايماندارانو سره څه کار لرم چې د هغوی په هکله قضاوت وکړم؟ ايا دا ستاسو دنده نه
ده چې د کليسا د غړو په هکله قضاوت وکړئ؟ ۱۳ خدای به د هغو خلکو په هکله قضاوت کوي
چې د کليسا نه دباندې دي، خو لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي تاسو بايد داسې
وکړئ:

بد سړی د خپل منځ نه وشړئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مسیحیانو په خلاف دعوې

۶ ۱ کله چې په تاسو کې کوم یو د بل نه شکایت لري، هغه څنګه جرات کوي چې د دې په
ځای چې د موضوع د حل دپاره د خدای خلکو ته ورشي، د هغو خلکو محکمې ته ورځي چې
خدای نه پېژني؟ ۲ ایا تاسو نه پوهېږئ چې د خدای خلک به د دنیا قضاوت کوي؟ نو تاسو چې
د دنیا قضاوت کوئ، ایا نه شئ کولای چې د کوچنیو قضیو په هکله قضاوت وکړئ؟ ۳ ایا تاسو
نه پوهېږئ چې مونږ به د فرښتو قضاوت کوو؟ نو بیا بې له شکه تاسو کولای شئ چې د دې دنیا
عادي شخړې حل کړئ. ۴ که چېرې تاسو داسې قضیې لرئ، نو هغه ولې هغو خلکو ته وروړئ
چې په کلیسا کې ورته څوک په درنه سترګه نه ګوري؟ ۵ زه اوس تاسو نه دا پوښتنه کوم چې
تاسو وشرمېږئ. ایا په تاسو کې دومره یو هوښیار کس نشته چې د ایماندارانو ترمنځ شخړې حل
کړي؟ ۶ خو د دې په ځای یو ایماندار بل ایماندار محکمې ته بیایي او دا کار د بې‌ایمانه خلکو
په مخکې کوي.

۷ په حقیقت کې په یو بل باندې دعوه کول بلکل ستاسو د ناکامۍ په معنی ده. نو د دې په ځای
به دا ښه وي چې ځانونه مظلومان کړئ او دا باید ومنئ چې غولول شوي یئ. ۸ خو تاسو خپله
یو د بل سره بدي او ټګي کوئ، حتی د خپلو ایماندارانو خویندو او ورونو سره هم. ۹ ایا تاسو
نه پوهېږئ چې بدکاران به د خدای د پاچاهۍ وارثان نه شي؟ ونه غولېږئ! نه به په جنسي لحاظ
بداخلاقه، نه بت‌پرستان، نه زناکاران، نه لواطت کاران، ۱۰ نه غله، نه حریصان، نه شرابیان، نه هغه
خلک چې نورو ته ښکنځلې کوي او نه به چلبازان د خدای د پاچاهۍ وارثان شي. ۱۱ په تاسو
کې هم ځینې یې داسې وو. خو تاسې د ښښتن عیسی مسیح په نوم او زمونږ د خدای د روح په
وسیله ووینځل شوئ، پاک او سپېڅلي شوئ او عادل وګڼل شوئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ کېدای شي خلک ووايي: «زما دپاره هرڅه روا دي،» دا رښتيا دي، خو ټول شيان تاسو ته
ګټور نه دي. «زما دپاره هرڅه روا دي،» خو زه نه پرېږدم چې کوم شی به زما نه غلام جوړ کړي.
۱۳ همدارنګه تاسو وايئ: «خوراک د خېټې دپاره دی او خېټه د خوراک دپاره،» خو خدای به
دواړه له منځه يوسي. بدن د جنسي بداخلاقۍ دپاره نه دی، بلکې د څښتن د خدمت دپاره جوړ
شوی دی او څښتن د هغه ساتونکی دی. ۱۴ لکه څنګه چې خدای څښتن عيسی مسيح د مرګ
نه بيا راژوندی کړ، نو مونږ به هم په خپل قدرت سره بيا راژوندي کړي. ۱۵ ايا په دې نه پوهېږئ
چې تاسو د مسيح د بدن غړي يئ؟ ايا دا سمه ده چې زه د مسيح د بدن يو غړی واخلم او هغه د
يوې بدلمنې ښځې د بدن غړی کړم؟ هېڅکله نه! ۱۶ ايا تاسو نه پوهېږئ چې که څوک د بدلمنې
ښځې سره يوځای شي، نو د هغې سره يو بدن کيږي؟ ځکه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي
دي:

دواړه به يو بدن شي.

۱۷ خو څوک چې د څښتن سره يوځای شي، نو په روحاني توګه به د هغه سره يو شي.

۱۸ د جنسي بداخلاقۍ نه وتښتئ. انسان چې هره بله ګناه کوي، هغه د بدن نه دباندې ده، خو
څوک چې جنسي بداخلاقي لري، نو هغه د خپل بدن په وړاندې ګناه کوي. ۱۹ ايا تاسو نه
پوهېږئ چې ستاسو بدن د روح القدس کور دی چې په تاسو کې اوسيږي او هغه د خدای له خوا
تاسو ته درکړل شوی دی؟ نو تاسو د خپل بدن خاوندان نه يئ، ۲۰ ځکه چې تاسو په بيه اخيستل
شوي يئ. نو د خپل بدن څخه د خدای د جلال دپاره کار واخلئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ۱ اوس زه غواړم د هغو موضوعګانو په هکله خبرې وکړم چې تاسو ليکلي دي: «د يو سړي
دپاره دا ښه ده چې د ښځې سره جنسي اړيکه ونه لري.» ۲ خو د جنسي بداخلاقۍ او زنا څخه
د ځان ساتنې په خاطر به دا ښه وي چې هر سړی خپله ښځه ولري او هره ښځه خپل مېړه ولري.
۳ مېړه دې د خپلې ښځې په وړاندې او ښځه دې هم د خپل مېړه په وړاندې خپل د مېړه‌توب او
ښځې‌توب حق ادا کړي. ۴ ځکه چې ښځه د خپل بدن اختيار نه لري، بلکې مېړه د هغې اختيار
لري. همدارنګه مېړه د خپل بدن اختيار نه لري بلکې د هغه ښځه يې لري. ۵ يو د بل سره
جنسي اړيکې مه پرېږدئ، خو دا چې دواړه په دې رضا وي چې د لږ وخت دپاره يې پرېږدئ،
ترڅو د دعا کولو دپاره ځانګړی وخت ولرئ. خو وروسته بيا سره يوځای شئ. هسې نه چې په
ځان باندې د واک له لاسه ورکولو له امله شيطان تاسې وسوسه کړي.

۶ زه تاسو ته دا لکه د يو حکم په شان نه وايم، بلکې دا يوازې يوه اجازه ده چې تاسو ته يې
درکوم. ۷ خو کاشکې تاسو ټول زما په شان مجرد وای. خو خدای هر چاته خپل خپل روحاني
نعمت ورکړی دی، يو ته يو ډول او بل ته بل ډول.

۸ اوس نو زه مجردانو او کونډو ته وايم چې ستاسو دپاره دا ښه ده چې زما په شان مجرد پاتې
شئ. ۹ خو که چېرې هغوی په خپلو ځانونو باندې حاکميت نه لري، نو واده دې وکړي، ځکه
چې واده کول په شهوت کې د سوځېدلو نه ښه دی.

۱۰ خو واده شويو خلکو ته زه حکم کوم چې دا زما نه، بلکې د څښتن حکم دی چې ښځه دې د
خپل مېړه څخه نه بېلېږي. ۱۱ خو که چېرې هغه د خپل مېړه نه بېله شي، نو مجرده دې پاتې شي
او يا دې بېرته د خپل مېړه سره پخلا شي او مېړه دې خپلې ښځې ته طلاق نه ورکوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ نورو ته دا زه وايم، نه څښتن. که چېرې د يو ايماندار ښځه بې‌ايمانه وي، خو هغه په دې
راضي وي چې د هغه سره ژوند وکړي، نو هغه دې ورته طلاق نه ورکوي. ۱۳ که چېرې د کومې
ايماندارې ښځې مېړه بې‌ايمانه وي او هغه د هغې سره په اوسېدلو راضي وي، نو هغه دې د خپل
مېړه نه طلاق نه اخلي. ۱۴ ځکه چې بې‌ايمانه مېړه د خپلې ښځې له امله خدای ته سپېڅلی دی
او کومه ښځه چې بې‌ايمانه وي، هغه د خپل ايماندار مېړه په سبب خدای ته سپېڅلې ده. که نه، نو
ستاسو اولادونه به ناپاک وای، خو اوس دوی هم خدای ته سپېڅلي دي. ۱۵ خو که چېرې
بې‌ايمانه مېړه يا ښځه يو د بل نه بېلېدل غواړي، نو پرېږده چې بېل شي. په داسې حالت کې هغه
ايماندار مېړه يا ښځه مجبوره نه دي چې د يو بل سره پاتې شي، ځکه چې خدای تاسو د سولې او
سلامتۍ دپاره رابللي يئ. ۱۶ نو ای ښځې، ته څه پوهېږې چې ايا ته به خپل مېړه وژغورې؟ او
ای مېړه، ته څه پوهېږې چې ايا خپله ښځه به وژغورې؟

## په هر حالت کې د خدای سره پاتې شئ

۱۷ خو بياهم هرڅوک دې داسې ژوند وکړي لکه څنګه چې خدای ورته ټاکلی دی او لکه څنګه
چې څښتن ورته رابللی دی. ټولو کليساګانو ته دا زما حکم دی. ۱۸ ايا يو سنت شوی سړی د
خدای بلنه منلې ده؟ نو هغه دې کوښښ نه کوي چې د سنتېدلو نښې له منځه يوسي. ايا يو ناسنت
شوی سړی د خدای بلنه منلې ده؟ نو هغه دې خپل ځان نه سنتوي. ۱۹ سنتېدل يا نه سنتېدل مهم
نه دي. مهمه دا ده چې د خدای په حکمونو باندې عمل وکړو. ۲۰ تاسو هر يو چې په کوم حالت
کې رابلل شوي يئ په هماغه حالت کې پاتې شئ. ۲۱ ايا کله چې ته راوبلل شوې، ته غلام وې؟
نو په دې باندې مه پرېشانه کېږه، خو که چېرې وکولای شې خپله ازادي لاسته راوړې، نو د موقعې
نه ګټه واخله. ۲۲ ځکه که چېرې څوک د غلامۍ په حالت کې د څښتن له خوا رابلل شوی وي،
هغه د څښتن يو ازاد شوی شخص دی. همدارنګه که چېرې څوک ازاد وي او د څښتن له خوا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رابلل شوى وي، نو هغه د مسيح غلام دى. ۲۳ تاسو په بيه اخيستل شوي يئ، نو د انسانانو
غلامان کېږئ مه. ۲۴ نو اى خويندو او ورونو! په هر حالت کې چې تاسو رابلل شوي يئ، نو په
هماغه حالت کې د خداى سره پاتې شئ.

## د مجردانو او کونډو په هکله

۲۵ او اوس د مجردانو د موضوع په هکله زما سره د څښتن له خوا کوم حکم نشته، خو د يو
داسې کس په توګه چې د څښتن د رحم په وسيله د باور وړ يم، خپل نظر وايم. ۲۶ زه فکر کوم
چې دې اوسني سخت حالت ته په کتلو سره به ښه وي چې يو کس لکه څنګه چې دى، هماغسې
پاتې شي. ۲۷ که ته ښځه لرې، نو هغې ته طلاق مه ورکوه او که ته مجرد يې، نو د واده کولو
کوښښ مه کوه. ۲۸ که چېرې يو سړى واده وکړي، نو هغه کومه ګناه نه ده کړې. که چېرې يوه
پېغله واده وکړي، نو هغې کومه ګناه نه ده کړې. خو که څوک واده وکړي، نو په ژوند کې به وربانديې
تکليفونه راشي او زه غواړم چې تاسو د دې تکليفونو څخه وساتم.

۲۹ اى خويندو او ورونو! زه دا وايم چې ډېر وخت نه دى پاتې. له همدااوس نه څوک چې ښځه
لري، نو يوازې دې د خپلې ښځې په فکر کې نه اوسي. ۳۰ څوک چې ژاړي، نو هغوى دې داسې
وي چې ګوندې هېڅ خفه نه دي او څوک چې خوشحالي کوي، نو هغوى دې داسې وي چې ګوندې
خوشحاله نه دي. څوک چې کوم څه اخلي، نو هغوى دې داسې وي لکه چې دا شيان د هغوى نه
دي. ۳۱ او څوک چې د دې نړۍ سره معامله او کاروبار لري، نو يوازې دې کاروبار ته فکر نه
کوي، ځکه چې دا نړۍ زر تېرېدونکې ده.

۳۲ زه غواړم چې تاسو د پرېشانۍ نه خلاص اوسئ. چا چې واده نه وي کړى، هغه د څښتن د
کارونو په هکله فکر کوي چې څښتن څنګه خوشحاله کړي. ۳۳ خو څوک چې ښځه لري، هغه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دنیاوي شیانو په هکله فکر کوي چې ښځه خپله ښځه خوشحاله کړي، ۳۴ نو هغه په دوه لارو کې بند پاتې کیږي. یوه ناواده شوې ښځه یا یوه پېغله د څښتن په فکر کې وي چې څنګه د هغې بدن او روح سپېڅلی او پاک اوسي. خو واده شوې ښځه د دنیاوي شیانو په هکله فکر او اندېښنه کوي چې څنګه خپل مېړه خوشحاله کړي. ۳۵ زه دا ستاسو د ښېګڼې دپاره وایم، د دې دپاره نه چې ستاسو ازادي محدوده کړم، بلکې زه غواړم چې تاسو هغه کار وکړئ چې سم او مناسب وي او له سرګردانۍ پرته خپل ځانونه د څښتن خدمت ته وقف کړئ.

۳۶ که چېرې څوک په دې هکله اندېښنه کوي چې هغه د خپلې کوژدن شوې انجلۍ سره سم چلند نه کوي او د هغه جنسي شوق ډېر وي او احساس کوي چې خامخا باید واده وکړي، نو څرنګه چې هغه یې غواړي، هماغسې دې وکړي. نو په دې کې هغه کومه ګناه نه کوي. ۳۷ خو که چا په خپل زړه کې ټینګه اراده کړې وي او د هیڅ ډول جبر او فشار لاندې نه وي او په خپلو غوښتنو باندې واک ولري او د خپل ځان سره یې پرېکړه کړې وي چې هغه خپله کوژدن شوې پېغله وساتي، نو هغه ښه کار کوي. ۳۸ نو بیا څوک چې د خپلې کوژدن شوې نجلۍ سره واده کوي، نو هغه ښه کوي او هغه څوک چې واده نه کوي، نو هغه د دې نه هم ښه کوي.

۳۹ ترڅو پورې چې د یوې ښځې مېړه ژوندی وي، نو هغه ښځه د خپل مېړه پورې تړلې ده. خو که مېړه یې مړ شي، نو بیا هغه ازاده ده چې د هرچا سره وغواړي واده وکړي، خو هغه سړی باید په څښتن باندې ایمان ولري. ۴۰ خو زما په نظر که هغه ښځه بې‌واده پاتې شي، نو ډېره خوشحاله به وي. زما په خیال چې زه هم د خدای د روح په وسیله تاسو ته دا نصیحت کوم.

## هغه خواړه چې بتانو ته وړاندې کیږي

۸ ۱ اوس د هغو خوړو په هکله چې بتانو ته وړاندې کیږي خبرې کوم. دا رښتیا دي کله چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلک وايي: «مونږ ټول پوهه لرو.» دا ډول پوهه خلک مغروره کوي، خو مينه يې جوړوي. ۲ که
چېرې څوک داسې فکر کوي چې زه په هرڅه باندې پوهېږم، خو لکه څنګه چې لازمه ده چې پوه
شي، هغه نه پوهېږي. ۳ خو څوک چې د خدای سره مينه کوي، نو خدای هغه پېژني.

۴ نو بتانو ته د وړاندې شوي خوراک د خوړلو په هکله مونږ ايمانداران پوهېږو چې بت په نړۍ
کې هېڅ شی نه دی او پرته له يو خدای نه بل خدای نشته. ۵ که څه هم ځينې خلک وايي چې
په ځمکه او اسمانونو کې خدايان شته او د هغوی دپاره داسې خدايان او څښتنان ډېر دي، ۶ خو
زمونږ دپاره يوازې يو خدای دی، يعنې پلار چې د ټولو شيانو خالق دی او د هغه دپاره مونږ ژوند
کوو. همدارنګه يو څښتن دی، يعنې عيسی مسيح چې ټول شيان د هغه په وسيله پيدا شوي دي او د
هغه په وسيله مونږ ژوند کوو.

۷ خو د ټولو ايماندارانو سره دا پوهه نشته، ځکه چې ځينې يې د بتانو سره داسې عادت شوي
دي چې تراوسه پورې کله چې هغه خواړه چې بتانو ته وړاندې شوي دي خوري، نو هغه د بتانو
قرباني ګڼي. څرنګه چې هغوی ښه نه پوهېږي، نو احساس کوي چې د هغو په خوړلو سره ناپاکه
کېږي. ۸ خوراک مونږ خدای ته نه نژدې کوي. که چېرې خواړه ونه خورو، نو کوم څه د لاسه
نه ورکوو او که ويې خورو، نو څه ترلاسه کولای نه شو.

۹ خو پام کوئ چې ستاسو ازادي په يو ډول د کمزورو ايماندارانو د تېروتنې سبب نه شي. ۱۰
ځکه که چېرې څوک تا، چې پوهه لرې په بتخانه کې په خوراک ووينې، نو ايا ستا دا کار به هغه
کس چې ښه پوهه نه لري، دې ته ونه هڅوي چې بتانو ته وړاندې شوي خواړه وخوري؟ ۱۱ نو
ستا د داسې پوهې له امله به هغه کمزوری ورور چې مسيح د هغه دپاره مړ شو، تباه شي. ۱۲ کله
چې تاسو د نورو ايماندارانو په وړاندې ګناه کوئ او هغوی دې ته هڅوئ چې داسې کار وکړي چې
د هغوی په نظر کې غلط وي، نو تاسو د مسيح په وړاندې ګناه کوئ. ۱۳ که چېرې زما خوراک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما د ورور یا خور د تېروتنې سبب ګرځي، نو زه به هېڅکله غوښه ونه خورم، هسې نه چې د هغوی د تېروتنې سبب شي.

## د یو رسول حقونه او دندې

۹ ① ایا زه ازاد نه یم؟ ایا زه رسول نه یم؟ ایا ما زمونږ څښتن عیسی نه دی لیدلی؟ ایا تاسو په څښتن کې زما د کار نتیجه نه یئ؟ ② که زه د نورو دپاره رسول نه یم، نو لږ تر لږه ستاسو دپاره خو یم، ځکه چې تاسو په خپله د دې ثبوت یئ چې زه د څښتن رسول یم.

③ کله چې خلک ماته ګوته نیسي، نو دا د هغوی په وړاندې زما دفاع ده: ④ ایا مونږ د خپل کار په خاطر چې سرته یې رسوو، د خوړلو او څښلو حق نه لرو؟ ⑤ ایا مونږ لکه د نورو رسولانو او د څښتن د ورونو او پطروس په شان دا حق نه لرو چې خپله ایمانداره ښځه په سفر کې د ځان سره بوځو؟ ⑥ ایا یوازې زه او برناباس باید د ژوند کولو دپاره کار وکړو؟ ⑦ ایا کوم عسکر په خپل لګښت او خرڅ باندې په پوځ کې خدمت کوي؟ څوک دی چې خپل د انګورو په باغ کې انګور وکري او میوه یې ونه خوري؟ ایا داسې څوک شته چې رمه وساتي او د شیدو نه یې ګټه وانخلي؟

⑧ ایا دا شیان یوازې زه د انساني فکر له مخې وایم؟ او ایا د موسی شریعت هم همداسې نه وایي؟ ⑨ ځکه چې د موسی په شریعت کې لیکل شوي دي:

د غوبل کولو په وخت کې د غویي خوله مه تړئ.

نو ایا خدای یوازې د غویانو په هکله فکر کوي؟ ⑩ ایا هغه په رښتیا سره دا خبرې زمونږ په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاطر نه کوي؟ بې له شکه چې دا زمونږ په خاطر ليکل شوي دي، ځکه څوک چې قلبه کوي، نو په
يوې هيلې سره يې کوي او څوک چې غوبل کوي، نو په دې هيله يې کوي چې د حاصل څخه يې
برخمن شي. ۱۱ که مونږ ستاسو په منځ کې روحاني تخم وکرلو، نو ايا دا زمونږ دپاره مناسبه نه ده
چې په دې تمه واوسو چې د هغې په بدل کې لکه د يو حاصل په شان مونږ ته مادي ګټې راکړئ؟
۱۲ که چېرې نور خلک ستاسو نه داسې تمه لري، نو ايا مونږ يې بايد زياته ونه لرو؟

خو بياهم مونږ د خپل حق څخه ګټه نه ده اخيستې، بلکې هرڅه مو زغملي دي ترڅو د مسيح په
هکله د زيري په لاره کې خنډ نه شو. ۱۳ ايا تاسو په دې نه پوهېږئ چې کوم کسان چې د خدای
په کور کې خدمت کوي او کومې نذرانې چې د خدای کور ته وړاندې کيږي، د هغو څخه د هغوی
حق هم ورکول کيږي؟ کوم کسان چې د قربانۍ په ځای کې خدمت کوي، نو هغوی د قربانۍ د
نذرانو څخه خپله برخه اخلي. ۱۴ په همدې ډول څښتن حکم کړی دی هغه کسان چې د زيري
رسوونکي دي، نو هغوی دې د خپل ژوند وسايل د زيري د رسولو له لارې برابر کړي.

۱۵ خو ما د دې حقونو څخه ګټه نه ده اخيستې او دا شيان د دې دپاره نه ليکم چې د خپل ځان
دپاره د داسې حقونو غوښتنه وکړم. زما دپاره به دا ښه وي چې مړ شم له دې نه چې څوک زما دا
وياړ په هېڅ حساب کړي. ۱۶ کله چې زه د زيري وعظ کوم، نو په دې باندې وياړ نه شم کولای،
ځکه زه مجبور يم چې دا کار وکړم. زما په حال دې افسوس وي چې د زيري وعظ ونه کړم. ۱۷
که چېرې زه په خپله خوښه دا کار کوم نو زه د اجر او انعام لايق يم، خو که چېرې زما د خوښې له
مخې نه وي، بياهم دا يوه دنده ده چې ماته سپارل شوې ده چې سرته يې ورسوم. ۱۸ نو بيا زما
اجر او انعام څه دی؟ زما انعام همدا موقعه ده چې په وړيا توګه زيری ورسوم. له همدې امله کله
چې زه زيری رسوم، نو هېڅکله د خپلو حقونو غوښتنه نه کوم.

۱۹ ځکه که څه هم زه ازاد يم او د چا غلام نه يم، خو خپل ځان مې د ټولو غلام کړی دی، ترڅو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما په وسیله ډېر خلک په مسیح باندې ایمان راوړي. ٢٠ کله چې زه د یهودیانو سره یم، نو لکه
د یهودي په شان ژوند کوم د دې دپاره چې هغوی په مسیح باندې ایمان راوړي. کله چې زه د هغو
کسانو په منځ کې یم چې د شریعت پیروي کوي، نو زه هم د شریعت تابع کېږم، ترڅو هغوی په
مسیح باندې ایمان راوړي، که څه هم زه د شریعت تابع نه یم. ٢١ زه د هغو خلکو سره چې
شریعت نه لري، بې‌شریعته شوم د دې دپاره چې غیریهودیان په مسیح باندې ایمان راوړي. د دې
معنی دا نه ده چې ګوندې زه د خدای شریعت نه منم، بلکې زه د مسیح د شریعت پیروي کوم. ٢٢
زه د کمزورو دپاره کمزوری شوم، ترڅو زما په وسیله هغوی په مسیح باندې ایمان راوړي. زه د
ټولو خلکو سره یوشان شوم چې په هره طریقه وي، وکولای شم د ځینو دپاره د خلاصون وسیله
شم. ٢٣ زه دا هرڅه د زیری د رسولو په خاطر کوم، ترڅو د هغه په برکتونو کې شریک شم.

٢٤ ایا تاسو نه پوهېږئ چې د منډو وهلو په سیالۍ کې ټول منډې وهي، خو یوازې یو کس جایزه
ګټي؟ نو تاسو هم داسې منډې ووهئ چې هغه جایزه وګټئ. ٢٥ هر لوبغاړی د لوبو په سیالۍ کې
ډېر سخت تمرین کوي. هغوی دا کار د دې دپاره کوي چې هغه تاج لاسته راوړي چې له منځه
تلونکی او فاني دی، خو مونږ یې د دې دپاره کوو چې داسې تاج لاسته راوړو چې تل پاتې دی.
٢٦ نو زه منډې وهم، خو د هغه چا په شان نه چې بې‌مقصده منډې وهي. زه سوک وهم، خو د
هغه چا په شان نه چې په هوا کې سوکونه وهي. ٢٧ بلکې زه په خپل ځان باندې تکلیف تېروم او
هغه په خپل واک کې ساتم، هسې نه چې نورو ته وعظ کوم او په خپله ترې بې‌برخې شم.

## د بت پرستۍ په خلاف خبرداری

١٠ ١ ای خویندو او ورونو! زه نه غواړم چې تاسو دا هېر کړئ چې زمونږ نیکونو ته د هغې
وریځې په وسیله چې د هغوی نه مخکې روانه وه، لارښوونه کېدله او ټول د سرې بحیرې نه پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وتل. ۲ هغوی ټولو د موسی د پیروانو په توګه په هغې وریځې او بحیرې کې د تعمید غسل
واخیست. ۳ ټولو یوشان اسماني ډوډۍ وخوړله. ۴ ټولو یوشان روحاني اوبه وڅښلې، ځکه
چې هغوی د هغه روحاني ګټ نه اوبه وڅښلې چې د هغوی پسې روان ؤ او هغه ګټ مسیح ؤ. ۵
خو بیاهم خدای په هغوی کې د ډېرو څخه خوشحاله نه ؤ، نو ځکه د هغوی مړي په دښته کې
خواره واره شول.

۶ نو دا شیان زمونږ دپاره یو عبرت شو، ترڅو مونږ هغه بدې غوښتنې ونه لرو لکه څنګه چې
هغوی درلودلې. ۷ تاسو بت پرست کېږئ مه، لکه څنګه چې په هغوی کې ځینې شوي وو. لکه
څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

هغه خلک کښېناستل چې وخوري او وڅښي او بیا پاڅېدل چې په مستۍ او عیاشۍ ګډا وکړي.

۸ مونږ باید جنسي بداخلاقي ونه کړو لکه څنګه چې په هغوی کې ځینو وکړه او په یوه ورځ کې
د هغوی درویشت زره کسان مړه شول. ۹ مونږ باید څښتن ونه ازمایو، لکه څنګه چې په هغوی
کې ځینو وازمایلو او د مارانو په وسیله ووژل شول. ۱۰ شکایت مه کوئ، لکه څنګه چې په
هغوی کې ځینو کړی ؤ او د مرګ فرښتې هغوی تباه کړل.

۱۱ دا هرڅه په هغوی باندې راغلل چې زمونږ دپاره عبرت وي او دا زمونږ د لارښوونې دپاره
لیکل شوي وو، ځکه چې مونږ په اخره زمانه کې ژوند کوو. ۱۲ که چېرې څوک فکر کوي چې
ټینګ ولاړ دی، نو پام دې وکړي چې راونه لوېږي. ۱۳ د هغو وسوسو سره چې تاسو ورسره
مخامخ شوي یئ، دا هغه وسوسې دي چې ټول خلک ورسره مخ کیږي. خو خدای په خپله وعده
باندې وفا کوي او هغه تاسو نه پرېږدي چې د خپل توان نه زیات وسوسه شئ. د وسوسه کېدلو په
وخت کې به خدای تاسو ته د وتلو لاره برابره کړي، ترڅو وکولای شئ چې هغه وزغمئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ نو له همدې امله ای ګرانو دوستانو، د بت پرستۍ نه ځان لېرې وساتئ. ۱۵ زه تاسو سره
لکه د هوښیارو خلکو په توګه خبرې کوم. زه چې څه وایم د هغو په هکله خپله قضاوت وکړئ.
۱۶ ایا هغه د برکت پیاله چې د ښبنتن په ماښامي کې یې څښو او د هغې دپاره مونږ د خدای
شکرګزاري کوو، هغه د مسیح په وینه کې شریک کېدل نه دي؟ ایا هغه ډوډۍ چې مونږ یې ماتوو او
خورو یې، هغه د مسیح په بدن کې شریک کېدل نه دي؟ ۱۷ لکه څنګه چې ډوډۍ یوه ده، که څه
هم مونږ ډېر یو خو یو بدن یو، ځکه چې مونږ ټول په یوه ډوډۍ کې سره شریک یو.

۱۸ د اسراییلو د خلکو په هکله فکر وکړئ. ایا هغه خلک چې قرباني خوري، هغوی د قربانۍ د
ځای په خدمت کې شریک نه دي؟ ۱۹ ایا زما مقصد دا دی چې هغه خواړه چې بتانو ته وړاندې
کېږي، هغه ارزښت لري؟ یا ایا په خپله بت کوم ارزښت لري؟ ۲۰ نه، بلکې زه دا وایم چې بېدینه
خلک چې کومې قربانۍ کوي هغه پېریانو ته وړاندې کوي، خدای ته یې نه کوي. زه نه غواړم چې
تاسو د پېریانو سره شریک شئ. ۲۱ تاسو نه شئ کولای چې هم یې د ښبنتن د پیالې نه وڅښئ
او هم یې د پېریانو د پیالې نه. تاسو نه شئ کولای چې هم یې د ښبنتن په دسترخوان وخورئ او
هم د پېریانو په دسترخوان. ۲۲ ایا مونږ غواړو چې په دې کار سره د ښبنتن قهر راوپاروو؟ ایا
تاسو فکر کوئ چې مونږ د هغه نه ډېر زورور یو؟

۲۳ کېدای شي خلک ووایي: «زمونږ دپاره هرڅه روا دي.» خو هرڅه ستا دپاره ښه نه دي.
«زمونږ دپاره هرڅه روا دي،» خو هرڅه ګټور نه دي. ۲۴ هېڅوک دې د خپلې ګټې په فکر کې نه
وي، بلکې د نورو د ګټې په فکر کې دې وي. ۲۵ هغه غوښه چې په بازار کې خرڅېږي، هغه په
ارام وجدان سره وخورئ او دا پوښتنه مه کوئ چې دا غوښه له کوم ځای نه راغلې ده. ۲۶ ځکه
د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

ځمکه او هرڅه چې په هغې کې دي، هغه د ښبنتن دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ که چېرې يو بې‌ايمانه کس تاسو ته د ډوډۍ دپاره بلنه درکړي او تاسو هم غواړئ چې ورشئ،
نو هرڅه چې ستاسو په مخکې کېږدي هغه وخورئ او په دې اړه په خپل وجدان کې کوم سوال مه
راپيدا کوئ. ۲۸ خو که تاسو ته څوک ووايي: «دا بتانو ته د قربانۍ غوښه ده،» نو د هغه کس په
خاطر چې تاسو يې خبر کړي يئ، د وجدان په خاطر هغه مه خورئ. ۲۹ زما مقصد ستاسو د
وجدان څخه نه دی، بلکې د نورو د وجدان څخه دی. خو يو څوک به ووايي: «د بل چا وجدان
ولې زما د ازادۍ په اړه قضاوت وکړي؟ ۳۰ که چېرې زه په شکرګزارۍ سره کوم څه خورم، نو د
کوم شي دپاره چې شکر وباسم د هغې له امله ولې ملامت کړای شم؟»

۳۱ نو څه چې خورئ يا څښئ يا څه چې کوئ، هغه هرڅه د خدای د جلال دپاره کوئ. ۳۲
هېڅوک مه خفه کوئ، که هغه يهوديان وي يا يونانيان او يا کوم بل څوک چې د خدای د کليسا سره
تړاو ولري. ۳۳ لکه څنګه چې زه کوښښ کوم په هر کار کې چې زه يې کوم، ټول خلک
خوشحاله کړم، ځکه چې دا زه د خپلې ښېګڼې دپاره نه غواړم، بلکې د نورو د ښېګڼې دپاره يې
غواړم، ترڅو هغوی هم خلاصون ومومي.

۱۱ ۱ زما څخه پيروي وکړئ لکه څنګه چې زه د مسيح پيروي کوم.

## په عبادت کې سر پټول

۲ زه ستاسو ستاينه کوم، ځکه چې په هرڅه کې ما يادوئ او په هغو روايتونو باندې عمل کوئ
چې ما درته درکړي دي. ۳ خو زه غواړم تاسو په دې پوه شئ چې مسيح د هر سړي سر دی او
مېړه د خپلې ښځې سر دی او د مسيح سر خدای دی. ۴ هر سړی چې په پټ سر دعا کوي يا د
خدای پيغام خلکو ته رسوي، هغه د خپل سر يعنې مسيح بې‌عزتي کوي. ۵ خو هره ښځه چې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوڅ سر دعا کوي یا د خدای پیغام رسوي، نو هغه د خپل سر یعنې خپل مېړه بې‌عزتي کوي او هغه داسې وي لکه سر یې چې خرییل شوی وي. ۶ ځکه که چېرې یوه ښځه خپل سر نه پټوي، نو هغه دې خپل ویښتان هم لنډ کړي، خو که چېرې د ښځې دپاره د ویښتانو لنډول او خرییل د شرم خبره وي، نو خپل سر دې پټ کړي. ۷ لازمه نه ده چې سړی خپل سر پټ کړي، ځکه چې هغه د خدای په شکل او د خدای د جلال دپاره پیدا شوی دی او ښځه د سړي د جلال دپاره پیدا شوې ده. ۸ ځکه چې سړی د ښځې څخه نه دی پیدا شوی، بلکې ښځه د سړي نه پیدا شوې ده. ۹ سړی د ښځې په خاطر نه دی پیدا شوی، بلکې ښځه د سړي دپاره پیدا شوې ده. ۱۰ له همدې امله او په دې خاطر چې فرښتې یېویني، نو ښځه باید خپل سر په پوړنې باندې پټ کړي، ترڅو وښایي چې هغه د خپل مېړه په واک کې ده. ۱۱ خو په هر حال د څښتن په خلکو کې ښځه د مېړه نه او مېړه د ښځې نه خپلواک او ازاد نه دی. ۱۲ ځکه لکه څنګه چې ښځه د سړي نه پیدا شوې ده، نو اوس سړی هم د ښځې نه پیدا کېږي او هرڅه د خدای له خوا دي.

۱۳ تاسو خپله قضاوت وکړئ، ایا ښځې ته مناسبه ده چې په لوڅ سر د خلکو په حضور کې خدای ته دعا وکړي؟ ۱۴ ایا په خپله طبیعت تاسو ته دا نه ښایي چې د سړي دپاره د اوږدو ویښتانو درلودل شرم دی؟ ۱۵ خو که د ښځې ویښتان اوږده وي، نو د هغې دپاره ښکلا ده، ځکه چې ویښتان هغې ته د دې دپاره ورکړل شوي دي چې سر یې ورباندې پټ شي. ۱۶ که چېرې څوک وغواړي په دې هکله بحث وکړي، نو یوازېنی شی چې زه یې ورته وایم هغه دا دی چې مونږ او د خدای کلیساګانې له دې نه پرته کوم بل دود او دستور نه لرو.

## د څښتن غوره ماښامی

۱۷ خو زه په دې لارښوونو کې ستاسو ستاینه نه کوم، ځکه کله چې تاسو سره راټولېږئ، نو دا ستاسو په ګټه نه دی بلکې ستاسو په زیان دی. ۱۸ ځکه لومړنی شی چې زه یې اورم دا دی کله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو په کليسا کې سره راټولېږئ، نو په ډلو باندې وېشل کېږئ. په دې باندې زه تر يوې اندازې
باور هم کوم، ۱۹ بې له شکه په تاسو کې بايد ډلې جوړې شي، ترڅو دا وپېژندل شي چې په تاسو
کې څوک رښتينی دی. ۲۰ کله چې تاسو سره راټولېږئ، نو په حقيقت کې تاسو د څښتن د
ماښامي د خوړلو دپاره نه راټولېږئ. ۲۱ ځکه کله چې تاسو ډوډۍ خورئ، نو هرڅوک په بيړه
خپله ډوډۍ خوري، نو ځينې وږي پاتې کيږي او نور نشه کيږي. ۲۲ ايا ستاسو خپل کور نشته
چې په کې وخورئ او وڅښئ؟ ايا تاسو د خدای کليسا سپکوئ او هغه خلک شرموئ چې هيڅ شی
نه لري؟ زه تاسو ته څه ووايم؟ ايا په دې کار ستاسو ستاينه وکړم؟ هېڅکله نه! ۲۳ ځکه کوم
تعليم چې ما تاسو ته درکړ، هغه مې د څښتن نه ترلاسه کړی دی او هغه دا ؤ چې په هغه شپه چې
د څښتن عيسی سره خيانت وشو، نو هغه ډوډۍ راواخيستله ۲۴ او شکر يې پرې وويست. هغه يې
ماته کړه او ويې ويل: «دا زما بدن دی چې ستاسو دپاره ورکول کيږي. زما په ياد کې دا کار کوئ.»
۲۵ په همدې ډول هغه د ماښام ډوډۍ نه وروسته پياله راواخيستله او ويې ويل: «دا پياله د خدای
او انسانانو ترمنځ يو نوی لوظ دی چې زما په وينه کې جوړېږي. هرکله چې هغه څښئ، نو زما په
ياد کې يې وڅښئ.»

۲۶ نو هرکله چې تاسو دا ډوډۍ خورئ او دا پياله څښئ، نو تاسو به خلکو ته د څښتن د مرګ
په هکله اعلان کوئ، تر هغې پورې چې هغه بېرته راشي. ۲۷ که چېرې څوک په داسې طريقې
سره د څښتن ډوډۍ خوري او يا د هغه پياله څښي چې د هغه بې‌عزتي ورباندې کيږي، نو هغه د
څښتن د بدن او وينې په وړاندې ګناه کوي. ۲۸ نو هرڅوک دې لومړی خپل ځان وازمايي او له
هغې وروسته دې هغه ډوډۍ وخوري او هغه پياله دې وڅښي. ۲۹ ځکه که چېرې څوک د مسيح
د بدن په معنی باندې پوه نه شي او هغه ډوډۍ وخوري او هغه پياله وڅښي، نو د هغو په خوړلو او
څښلو سره خپل ځان محکوموي. ۳۰ له همدې امله په تاسو کې ډېر کمزوري او ناروغه دي او
ځينې مړه شوي دي. ۳۱ که چېرې مونږ خپل ځان ازمايلی وای، نو د قضاوت لاندې به نه راتللو.
۳۲ خو کله چې څښتن زمونږ په هکله قضاوت کوي، نو زمونږ د اصلاح کولو دپاره يې کوي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو مونږ د نړی د خلکو سره محکوم نه شو.

۳۳ نو ای خویندو او ورونو! کله چې تاسو د ښښتن د غوره مابنامي د خوړلو دپاره سره
راټولېږئ، نو د یو بل انتظار کوئ. ۳۴ که چېرې څوک وږی وي، نو هغه دې په خپل کور کې
ډوډۍ وخوري، ترڅو ستاسو راټولېدل ستاسو د محکوم کېدلو سبب نه شي. خو کله چې زه درشم،
نو د نورو شیانو په هکله به تاسو ته لارښوونې وکړم.

## روحاني نعمتونه

۱۲ ۱ نو اوس ای خویندو او ورونو! زه نه غواړم چې تاسو د روحاني نعمتونو د موضوع په
هکله بې‌خبره پاتې شئ. ۲ تاسو پوهېږئ کله چې تاسو کافران وئ، نو په هر صورت تاسو
بې‌لارې شوئ او د ګونګیانو بتانو پسې لاړئ. ۳ نو له دې امله زه غواړم تاسو په دې پوه شئ
چې د چا سره چې د خدای روح وي، هغه نه شي کولای په عیسی باندې لعنت ووایي او هېڅوک نه
شي کولای چې د روح القدس نه پرته عیسی ته ښښتن ووایي.

۴ روحاني نعمتونه ډول ډول دي، خو روح القدس یو دی چې ټولو ته ورکول کېږي. ۵
خدمتونه ډول ډول دي، خو ټول د یو ښښتن خدمت کوي. ۶ د کارونو وړتیاوې ډول ډول دي،
خو هماغه یو خدای دی چې هر چاته د هغه د ځانګړي کار دپاره توان ورکوي. ۷ روح القدس
خپل ځان په هرچا کې په ځانګړي ډول د ټولو خلکو د ښېګڼې دپاره ښکاره کوي. ۸ روح
القدس یو کس ته د پیغام د بیانولو توان ورکړی دی چې د حکمت نه ډک دی او بل کس ته یې د
هماغه روح په وسیله د هغه پیغام د بیانولو توان ورکړی دی چې د علم او پوهې نه ډک دی. ۹
د هماغه روح القدس په وسیله یو کس ته ټینګ ایمان ورکړل شوی دی او بل ته د شفا ورکولو
روحاني نعمت. ۱۰ یو ته یې د معجزو ښودلو قدرت ورکړی دی، بل ته یې د خدای د پیغام رسول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بل ته يې دا توان ورکړی دی چې په دې پوه شي چې ايا دا پيغام د خدای د روح له خوا دی او يا د کوم بل روح له خوا. بل ته يې دا توان ورکړی دی چې په روحاني ژبو باندې خبرې وکړي او بل ته يې د ژبو د ترجمې او تفسير کولو توان ورکړی دی. ۱۱ خو دا ټول د هماغه يو روح کار دی او هر چاته چې وغواړي هغه ته يې ورکوي.

## يو بدن او ډېر غړي

۱۲ لکه څنګه چې بدن يو دی او ډېر غړي لري او که څه هم د بدن غړي ډېر دي، خو ټول يو بدن دی، نو مسيح هم همداسې دی. ۱۳ په همدې ډول مونږ ټول که يهوديان يو يا غيريهوديان، که غلامان يو يا ازاد، مونږ د يو روح په وسيله په يو بدن کې د تعميد غسل اخيستی دی او مونږ ټولو ته همدا روح راکړل شوی دی.

۱۴ څکه چې بدن د يو غړي څخه نه دی جوړ شوی، بلکې د ډېرو غړو څخه جوړ شوی دی.
۱۵ که چېرې پښه ووايي: «په دې خاطر چې زه لاس نه يم، نو د بدن سره تړاو نه لرم،» نو په دې خبره نه شي کېدای چې هغه نور د بدن غړی نه دی. ۱۶ که چېرې غوږ ووايي: «په دې خاطر چې زه سترګه نه يم،» نو په دې خبره نه شي کېدای چې هغه نور د بدن غړی نه وي. ۱۷ که چېرې ټول بدن سترګه وای، نو بيا يې څنګه کولای شول چې واوري؟ او که چېرې ټول بدن غوږ وای، نو بيا يې څنګه کولای شول چې بوی کړي؟ ۱۸ خو په حقيقت کې څنګه چې خدای غوښتل ټول غړي يې په يو بدن کې سره ځای په ځای کړي دي. ۱۹ که دا ټول يو غړی وای، نو بدن به چېرې ؤ؟ ۲۰ نو غړي ډېر دي، خو بدن يو دی.

۲۱ سترګه نه شي کولای لاس ته ووايي: «زه تاته اړتيا نه لرم،» او نه سر پښو ته ويلی شي: «زه تاته اړتيا نه لرم.» ۲۲ په حقيقت کې د بدن هغه غړي چې کمزوري ښکاري، هغه ډېر ضروري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي. ۲۳ د بدن هغه غړي چې مونږ يې شرم ګڼو، په هغو باندې ډېر پام کوو او هغه پټوو او مونږ په
ډېر احتياط سره هغه غړي پټوو چې بايد ونه ليدل شي، ۲۴ په داسې حال کې چې د بدن ښکاره
غړي دې ته اړتيا نه لري. خو خدای د بدن غړي داسې جوړ کړي دي چې د بدن پټو غړو ته ډېر
ارزښت ورکول کيږي، ۲۵ ترڅو د بدن د غړو ترمنځ نابرابري راپيدا نه شي، بلکې ټول غړي يو بل
ته يوشان پام وکړي. ۲۶ که چېرې د بدن يو غړی درد کوي، نو ټول غړي ورسره دردمن کيږي او
که چېرې يو غړی عزت مومي، نو ټول غړي ورسره خوشحاله وي.

۲۷ نو اوس تاسو ټول د مسيح بدن يئ او تاسو هر يو د هغه غړي يئ. ۲۸ خدای په کليسا کې
ځينې داسې وټاکل: لومړی رسولان، دوهم پيغمبران، دريم استاذان او وروسته بيا د معجزو ښودلو او
د شفا ورکولو، د مرستې کولو، اداره کولو او په مختلفو نااشنا ژبو باندې د خبرو کولو نعمتونه. ۲۹
ايا ټول رسولان دي؟ ايا ټول پيغمبران دي؟ ايا ټول ښوونکي دي؟ ايا ټول معجزې ښايي؟ ۳۰ ايا
ټولو ته د شفا ورکولو روحاني نعمت ورکړل شوی دی؟ ايا ټول په نااشنا ژبو خبرې کوي؟ ايا ټول
ترجمې او تفسير کوي؟ ۳۱ نو تاسو په ډېر شوق سره د لويو روحاني نعمتونو غوښتونکي اوسئ.
نو زه به تاسو ته ډېره ښه لاره دروښايم.

## مينه

۱۳ ۱ که چېرې زه د انسانانو او فرښتو په ژبو خبرې کوم، خو که د نورو سره مينه نه کوم، نو
زه يوازې شرنګېدونکی زنګ او ډنګېدونکی ډول يم. ۲ که چېرې زه د خدای د پيغام رسولو
توان ولرم او په ټولو پټو رازونو او ټول علم باندې پوهېږم او که چېرې داسې ايمان ولرم چې غرونه
وخوځوم، خو که چېرې د نورو سره مينه ونه کړم، نو زه هېڅ شی نه يم. ۳ که چېرې زه خپل
ټول مال او جايداد غريبانو ته ورکړم او خپل بدن قرباني کړم، خو که د نورو سره مينه نه کوم، نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماته هېڅ ګټه نشته.

۴ مينه صبرناکه او مهربانه ده. په مينه کې بخيلي يا لافې وهل او غرور نشته، ۵ نه په کې بدچلند شته، نه په کې ځان خوښول شته، نه په کې تند مزاجي شته او نه په کې بدګماني شته. ۶ مينه په بدکارۍ نه خوشحالېږي، بلکې په رښتينولۍ خوشحالېږي. ۷ مينه په هرڅه کې صبر کوي، هېڅکله ايمان له لاسه نه ورکوي، په هرڅه باندې خپله هيله ساتي او هرڅه زغمي.

۸ مينه هېڅکله نه ختمېږي، خو د خدای پيغام رسول به پای ته ورسېږي، که څه هم په ناآشنا ژبو خبرې کول شته، خو هغه به هم پای ته ورسېږي او علم او پوهه به هم له منځه لاړه شي. ۹ ځکه چې زمونږ د علم او پوهې نعمت او د خدای د پيغام د رسولو توان نيمګړی دی، ۱۰ خو کله چې هرڅه کامل شي، نو بيا کوم څه چې کامل نه دي هغه به ورک شي.

۱۱ کله چې زه ماشوم وم، نو د ماشوم په شان مې خبرې کولې او د ماشوم په شان فکر مې درلود او د ماشوم په شان دليل به مې وايه. کله چې زه لوی شوم، نو د ماشومتوب چلند مې پرېښود. ۱۲ ځکه اوس چې مونږ څه وينو، هغه داسې لکه په آيينه کې د خړپړ تصوير په شان ښکاري، خو وروسته به يې بيا مخامخ ووينو. اوس چې زه په کوم څه باندې پوهېږم، هغه نيمګړې دي، خو بيا به يې په پوره توګه وپېژنم، لکه څنګه چې اوس خدای ما په پوره توګه پېژني.

۱۳ نو اوس ايمان، هيله او مينه درې واړه پاتې کېږي، خو په دوی کې مينه تر ټولو لويه ده.

## د خدای پيغام رسول او په روحاني ژبو باندې خبرې کول

۱۴ ۱ د مينې لاره خپله کړئ او په شوق سره د روحاني نعمتونو غوښتونکي اوسئ، په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځانګړې توګه د خدای د پیغام رسولو نعمت. ۲ ځکه څوک چې په نااشنا ژبو خبرې کوي، نو
هغه د نورو خلکو سره نه، بلکې د خدای سره خبرې کوي او بل څوک د هغه په خبرو نه پوهېږي،
ځکه چې هغه د روح القدس په وسیله د پټ راز خبرې کوي. ۳ خو څوک چې د خدای پیغام
رسوي، نو د نورو د قوي کولو او هڅولو او ډاډګېرنې دپاره خبرې کوي. ۴ څوک چې په نااشنا
ژبو خبرې کوي، نو هغه خپل ځان ته ګټه رسوي، خو څوک چې د خدای پیغام رسوي، هغوی
کلیسا ته ګټه رسوي.

۵ زه غواړم چې تاسو په نااشنا ژبو خبرې وکړئ، خو له دې نه زیات زه غواړم چې تاسو د
خدای پیغام ورسوئ. څوک چې د خدای پیغام رسوي، هغه د هغه چا نه چې په نااشنا ژبو خبرې
کوي ډېر ښه دی، خو دا چې څوک وکولای شي د هغه خبرې ترجمه او تفسیر کړي ترڅو کلیسا
قوي شي. ۶ نو ای خویندو او ورونو! که چېرې زه تاسو ته درشم او په نااشنا ژبو خبرې وکړم،
نو تاسو ته یې څه ګټه ده؟ خو که چېرې زه تاسو ته د خدای له خوا یوه مکاشفه یا علم او پوهه،
پیغام یا تعلیم درورسوم، نو دا به ګټوره وي.

۷ حتی که چېرې د موسیقي الات لکه شپېلی او چنګ که په صفا او روښانه توګه ونه غږول
شي، نو اورېدونکی به د هغو په ساز او تال باندې څنګه پوه شي؟ ۸ که چېرې د سرنې اواز صفا
نه وي، نو یو عسکر به څنګه خپل ځان جنګ ته تیار کړي؟ ۹ په همدې ډول که چېرې ستاسو
خبرې صفا او روښانه نه وي، نو بل څوک به څنګه پوه شي چې تاسو څه وایئ؟ نو دا به داسې وي
لکه د باد سره چې خبرې کوئ. ۱۰ بې له شکه چې په نړۍ کې ډول ډول ژبې دي، خو یوه یې
هم بې‌معنی نه ده. ۱۱ که چېرې زه په هغې ژبې باندې چې یو کس ورباندې خبرې کوي پوه نه
شم، نو زه به هغه ته پردی ښکارم او هغه به ماته پردی ښکاري. ۱۲ که چېرې تاسو د دې شوق
لرئ چې روحاني نعمتونه ترلاسه کړئ، نو د هغو څخه یو یې غوره کړئ چې ایمانداران قوي کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ نو له دې امله که چېرې څوک په داسې ژبو باندې خبرې کوي چې نور ورباندې نه پوهېږي،
نو هغه دې دعا وکړي، ترڅو د دې توان پیدا کړي څه چې وايي هغه ترجمه او تفسیر کړي. ۱۴
ځکه که چېرې زه په نااشنا ژبه دعا کوم، نو زما روح دعا کوي، خو زما ذهن او فکر په کې رول نه
لري. ۱۵ نو بیا څه وکړم؟ زه به په روح کې دعا کوم، خو په خپل ذهن او فکر به هم دعا کوم. زه
به د خپل روح په وسیله د ثنا او صفت سندره وایم، خو په خپل ذهن او فکر به هم د ثنا او صفت
سندره وایم. ۱۶ که نه، نو کله چې ته په خپل روح کې خدای ته شکرګزاري کوې، نو هغه نابلده
کس چې هلته موجود وي، هغه به ستا شکرګزارئ ته څنګه امین ووايي؟ ځکه هغه نه پوهیږي چې
ته څه وايې. ۱۷ ځکه چې ته به ډېره ښه شکرګزاري وکړې، خو بل چاته به کومه ګټه ونه رسوي.

۱۸ د خدای شکر کوم چې زه ستاسو ټولو نه زيات په نااشنا ژبو باندې خبرې کوم. ۱۹ خو زه
په کليسا کې د هغو پنځو کليمو ويل چې د نورو دپاره د پوهېدلو وړ دي ښې ګڼم، نسبت د هغو لسو
زرو کليمو ويلو نه چې په نااشنا ژبو باندې وي او څوک ورباندې پوه نه شي.

۲۰ ای خويندو او ورونو! په فکر کولو کې د ماشومانو په شان مه اوسئ، بلکې د بالغو انسانانو په
شان فکر کوئ او د ماشومانو په شان بېګناه اوسئ. ۲۱ د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

ښبتن وايي چې زه به د پرديو خلکو څخه چې په نااشنا ژبو خبرې کوي، کار واخلم چې زما د
خلکو سره خبرې وکړي. دوی به د هغوی سره په پردی ژبه خبرې وکړي، خو بيا به هم زما خلک
ماته غوږ ونه نيسي.

۲۲ نو په نااشنا ژبو باندې خبرې کول د ايماندارانو دپاره نه، بلکې د بې‌ايمانانو دپاره يوه نښه ده.
حال دا چې د خدای د پيغام رسولو نعمت د ايماندارانو دپاره دی، نه د بې‌ايمانانو دپاره. ۲۳ نو که
چېرې د کليسا ټول غړي سره راټول شي او هر يو په نااشنا ژبو باندې خبرې وکړي او په همدې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت کې کوم نابلده یا بې‌ایمانه کس راننوځي، نو ایا هغوی به ونه وايي چې تاسو لېونیان یئ؟ ۲۴
خو که چېرې تاسو ټول د خدای پیغام رسوئ او په دې وخت کې کوم بې‌ایمانه یا نابلده کس
راننوځي، نو څه چې اوري، په دې به قانع شي چې ګناهکار دی او هغه ټولې خبرې چې هغه یې
اوري په هغو باندې به تر قضاوت لاندې ونیول شي. ۲۵ کله چې هغه اوري، د هغه د زړه راز به
ښکاره شي، نو هغه به په ګونډو شي او د خدای عبادت به وکړي او وبه وايي چې خدای په رښتیا
سره ستاسو په منځ کې دی.

## په کلیسا کې نظم او ترتیب

۲۶ نو ای خویندو او ورونو! لنډه دا چې کله چې تاسو د عبادت دپاره راټولېږئ، نو هرڅوک چې
مذهبي سندره وايي یا تعلیم ورکوي یا یوه مکاشفه بیانوي یا په نااشنا ژبو باندې خبرې کوي یا
ترجمه او تفسیر کوي، نو دا هرڅه دې د کلیسا د قوي کولو دپاره وي. ۲۷ که چېرې څوک په
نااشنا ژبو باندې خبرې کوي، نو یوازې دوه یا زیات نه زیات درې کسان دې په وار سره خبرې
وکړي او یو کس دې هغه ترجمه او تفسیر کړي. ۲۸ خو که چېرې ترجمه او تفسیر کوونکی نه
وي، نو هر یو دې په کلیسا کې چوپ پاتې شي او د خپل ځان او خدای سره دې خبرې وکړي.
۲۹ دوه یا درې کسان دې د خدای پیغام ورسوي او نور دې د هغوی د خبرو ارزښت وګوري.
۳۰ خو که چېرې په ناستو کسانو کې څوک د خدای له خوا یوه مکاشفه ترلاسه کړي، نو هغه
کس چې خبرې کوي، هغه دې غلی پاتې شي. ۳۱ په دې ډول تاسو ټول کولای شئ چې د خدای
پیغام یو په بل پسې وار په وار ورسوئ، ترڅو ټول یو څه زده کړي او وهڅول شي. ۳۲ د خدای
د پیغام رسولو نعمت د هغه د ویونکي په واک کې وي. ۳۳ ځکه چې خدای د ګډوډۍ او بې‌نظمۍ
خدای نه دی، بلکې د سولې او سلامتۍ خدای دی. دا هغه څه دي چې د خدای د خلکو په ټولو
کلیساګانو کې کېږي: ۳۴ ښځې باید په کلیسا کې غلې پاتې شي، ځکه چې هغوی ته د خبرو کولو
اجازه نشته، بلکې لکه څنګه چې شریعت هم وايي هغوی باید تابعدارې اوسي. ۳۵ که چېرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی غواړي چې د کوم شي په هکله پوه شي، نو په کور کې دې د خپلو مېړونو څخه پوښتنه
وکړي، ځکه چې د ښځې دپاره د شرم خبره ده چې د کلیسا په غونډه کې خبرې وکړي.

٣٦ ایا د خدای کلام ستاسو له خوا راغلی دی؟ یا دا کلام یوازې تاسو ته در رسېدلی دی؟ ٣٧
که چېرې څوک فکر کوي چې هغه د خدای پیغام لري یا د هغه سره روحاني نعمت شته، نو هغه دې
په دې پوه شي چې زه چې تاسو ته کوم څه لیکم، هغه د څښتن حکم دی. ٣٨ که چېرې څوک دا
حکم له نظره غورځوي، نو هغه به هم له نظره وغورځول شي.

٣٩ نو ای خویندو او ورونو! د خدای د پیغام د رسولو شوق ولرئ او څوک چې په نااشنا ژبو
خبرې کوي، هغه مه منع کوئ. ٤٠ خو هر یو کار باید په مناسبه او منظمه توګه سرته ورسیږي.

## د مسیح بیا راژوندي کېدل

١٥ ١ ای خویندو او ورونو! زه اوس غواړم هغه زېری تاسو ته در په یاد کړم چې تاسو ته
مې د هغه وعظ کړی ؤ او تاسو هغه منلی ؤ او په هغه باندې ټینګ ولاړ یئ. ٢ که چېرې تاسو
زما په درکړل شوي زیري باندې ټینګ پاتې شئ، نو د هغه په وسیله تاسو خلاصون مومئ، که نه نو
ستاسو ایمان بېګټې دی.

٣ کوم ډېر مهم پیغام چې ما ترلاسه کړی ؤ، هغه مې تاسو ته دروررساوه. هغه پیغام دا دی چې د
خدای د کلام له مخې مسیح زمونږ د ګناهونو په خاطر مړ شو ٤ او هغه ښخ کړای شو او لکه
څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي، هغه په دریمه ورځ بیا راژوندی شو. ٥ هغه
لومړی پطروس او وروسته بیا دولسو شاګردانو ته ښکاره شو. ٦ بیا هغه یوځل د پنځه سوو نه
زیاتو نورو پیروانو ته ښکاره شو چې د هغوی څخه ډېر یې لا تراوسه پورې ژوندي دي او ځیني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې مړه دي. ۷ بيا هغه يعقوب ته ښکاره شو او له هغې وروسته ټولو رسولانو ته.

۸ د ټولو نه په اخره کې ماته چې لکه د بې‌وخته ماشوم په شان زېږېدلى وم، ښکاره شو. ۹
زه په رسولانو کې د ټولو نه ډېر مهم نه يم او تر دې چې د دې لايق هم نه يم چې رسول راته وويل
شي، ځکه چې ما د خداى کليسا ځورولې ده. ۱۰ خو زه چې هرڅه يم، هغه د خداى په فضل يم
او کوم فضل چې په ما باندې وشو، هغه بېځايه نه ؤ، ځکه چې ما د هغوى ټولو نه ډېر زحمت
ويستلى دى. که څه هم دا زه نه وم، بلکې د خداى فضل ؤ چې زما سره ؤ. ۱۱ په هر حال مهمه
نه ده که دا زه وم چې وعظ مې وکړ او يا که نورو رسولانو وکړ، مهمه دا ده چې مونږ د يو پيغام په
هکله وعظ کوو او تاسوورباندې ايمان لرئ.

## د مړو بيا راژوندي کېدل

۱۲ اوس که چېرې مونږ وعظ کوو چې مسيح د مړو نه راژوندى شوى دى، نو بيا په تاسو کې
ځينې ولې وايي چې د مړو نه راژوندي کېدل نشته. ۱۳ خو که چېرې د مړو نه بيا راژوندي کېدل
نشته، نو بيا مسيح هم راژوندى شوى نه دى. ۱۴ او که چېرې مسيح نه وي راژوندى شوى، نو بيا
زمونږ وعظ کومه ګټه نه لري او ستاسو ايمان هم بې‌ګټې دى. ۱۵ که چېرې د مړو نه راژوندي
کېدل رښتيا نه وي، نو بيا خداى مسيح هم نه دى راژوندى کړى او مونږ په دې هکله د خداى
دروغجن شاهدان يو. ۱۶ ځکه که چېرې مړي نه راژوندي کيږي، نو مسيح هم راژوندى شوى نه
دى. ۱۷ او که چېرې مسيح راژوندى شوى نه وي، نو ستاسو ايمان بې‌ګټې دى او تاسو لا تراوسه
هم په ګناهونو کې ژوند تېروئ. ۱۸ نو بيا هغه کسان چې په مسيح باندې يې ايمان درلود او مړه
شوي دي، هغوى هم تباه شوي دي. ۱۹ که چېرې زمونږ هيله په مسيح کې يوازې د دې ژوند
دپاره وي، نو بيا مونږ په دې نړۍ کې د ټولو انسانانو نه زيات بدبخته يو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ خو په حقيقت کې مسيح د مړو نه راژوندی شوی دی. هغه په ټولو کې لومړنی کس دی چې د
مړو نه راژوندی شوی دی. ٢١ ځکه لکه څنګه چې مرګ د يو انسان په وسيله راغی، نو د مړو نه
راژوندی کېدل هم د يو انسان په وسيله راغی. ٢٢ لکه څنګه چې ټول خلک د ادم سره د تړاو
لرلو په خاطر مړه کيږي، نو په همدې ډول به ټول خلک چې د مسيح سره تړاو لري، بيا راژوندي
شي. ٢٣ خو هر يو به په منظمه توګه سره راژوندی کيږي. په ټولو کې لومړی مسيح راژوندی شو
او بيا کله چې مسيح راځي، نو هغه کسان به راژوندي شي چې د هغه سره تړاو لري. ٢٤ کله چې
مسيح ټول روحاني حاکمان، اختيارونه او قدرتونه له منځه يوسي، نو هرڅه به پای ته ورسيږي او
هغه به پاچاهي پلار خدای ته وسپاري. ٢٥ ځکه چې مسيح بايد تر هغې پورې پاچاهي وکړي،
ترڅو خپل ټول دښمنان تر پښو لاندې کړي. ٢٦ وروستنی دښمن چې له منځه به وړل کيږي، هغه
مرګ دی. ٢٧ د خدای کلام وايي: «خدای ټول شيان د هغه تر پښو لاندې کړل،» کله چې وايي
«ټول شيان» نو دا روښانه ده چې خدای په خپله په دې کې شامل نه دی چې هغه ټول شيان د
مسيح په واک او اختيار کې ورکړي دي. ٢٨ کله چې ټول شيان د مسيح په واک کې ورکړل شول،
نو هغه به هم خپل ځان چې زوی دی، د خدای په واک کې ورکړي چې ټول شيان يې د هغه په
واک کې ورکړي دي او خدای به په ټولو باندې حکومت کوي.

٢٩ که چېرې د مړو نه بيا راژوندي کېدل نه وي، نو بيا خلک ولې د مړو په خاطر د تعميد غسل
اخلي. که چېرې مړي هېڅ نه راژوندي کيږي، نو بيا په څه دليل خلک د هغوی دپاره د تعميد غسل
اخلي؟ ٣٠ او ولې مونږ هر ساعت خپل ځان په خطر کې اچوو؟ ٣١ زما خويندو او ورونو، زه
قسم خورم د هغه وياړ له امله چې يې په څښتن عيسی مسيح کې په تاسو کوم، زه هره ورځ د مرګ
سره مخ يم. ٣٢ که چېرې ما د افسيس په ښار کې يوازې د انساني فکر له مخې د ځناورو سره
جنګ وکړ، نو څه مې ترلاسه کړل؟ که چېرې مړي بيا نه راژوندي کيږي، نو مونږ هم داسې وکړو
لکه څنګه چې خلکو ويل: «راځئ چې وخورو او وڅښو، ځکه چې سبا به مړه کيږو.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ نو مه غولېږئ، ځکه چې رښتيا دا دي چې «د بدو خلکو سره ملګرتيا ښه اخلاق خرابوي.»
۳۴ د نشې د ګنګستوب نه رابېداره شئ او نوره ګناه مه کوئ، ځکه چې په تاسو کې ځينې خلک خدای نه پېژني او زه دا د دې دپاره وايم چې تاسو وشرمېږئ.

## په جسماني توګه راژوندي کېدل

۳۵ خو کېدای شي چې يو څوک پوښتنه وکړي: «مړي څنګه راژوندي کيږي او د هغوی بدن به څه ډول وي؟» ۳۶ ای کم‌عقله، کله چې ته په ځمکه کې تخم کرې، نو تر هغې پورې هغه نه راشين کيږي ترڅو هغه مړ نه شي. ۳۷ او څه چې تاسو کرئ، هغه پوره بوټی نه دی، بلکې هغه يوازې يو دانه تخم دی، که هغه د غنمو وي او يا د کوم بل شي. ۳۸ خو خدای هغه تخم ته بدن ورکوي چې د هغه دپاره يې غوره کړی دی او هر ډول تخم ته خپل ځانګړی بدن ورکوي. ۳۹ ځکه چې د ټولو بدنونه يوشان نه دي، د انسانانو بدن يو ډول دی، د حيواناتو بدن بل ډول، د مرغانو بدن بل ډول او د ماهيانو بدن بل ډول دی. ۴۰ اسماني او ځمکني بدنونه هم شته، خو د اسماني بدن ښکلا يو ډول ده او د ځمکني بدن ښکلا بل ډول ده. ۴۱ لمر يو ډول ښکلا لري او سپوږمی بل ډول او د ستورو ښکلا بل ډول ده. بل دا چې د يو ستوري ښکلا د بل ستوري څخه فرق لري.

۴۲ نو د مړو راژوندي کېدل همداسې وي. څه چې ښخ کړای شي، هغه له منځه تلونکي دي او هغه څه چې راژوندي کيږي، هغه له منځه نه ځي. ۴۳ کله چې بدن خاورو ته سپارل کيږي، نو بدرنګه او کمزوری وي، خو کله چې راژوندی کيږي، نو هغه ښکلی او قوي کيږي. ۴۴ جسماني بدن ښخيږي او روحاني بدن راژوندی کيږي. ځکه لکه څنګه چې جسماني بدن شته، نو روحاني بدن هم شته. ۴۵ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

لومړنی انسان يعنې ادم يو ژوندی بدن شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او وروستنی ادم یعنې مسیح ژوندون ورکوونکی روح شو. ۴۶ هغه چې لومړی راغی هغه روحاني
بدن نه ؤ بلکې جسماني ؤ، خو وروسته بیا روحاني بدن راغی. ۴۷ لومړنی انسان یعنې ادم د
خاورو نه جوړ شوی ؤ او دوهم انسان یعنې مسیح د اسمان نه راغی. ۴۸ د ځمکې خلک لکه د
لومړني انسان په شان د خاورو څخه دي، اسماني خلک د هغه چا په شان دي چې د اسمان نه
راغلی دی. ۴۹ لکه څنګه چې مونږ د ځمکني انسان په شکل جوړ شوي یو، نو د اسماني انسان
په شکل به هم شو.

۵۰ ای خویندو او ورونو! زه تاسو ته وایم څه چې د غوښې او وینې څخه جوړ شوي دي، هغه نه
شي کولای چې د خدای په پاچاهۍ کې شریک شي او هغه څه چې فاني دي، هغه نه شي کولای د
هغه څه وارثان شي چې فناکېدونکي نه دي.

۵۱ غوږ ونیسئ! زه به تاسو ته یو پټ راز ووایم. مونږ ټول به نه مړه کېږو، خو ټول به بدل شو.
۵۲ په یوه شېبه کې د سترګو په رپ کې به د اخرني سرني په اواز سره مړي راژوندي شي او نور
به هېڅکله مړه نه شي. مونږ به ټول بدل شو، ۵۳ ځکه چې زمونږ مړهکېدونکي بدنونه باید په
داسې بدنونو باندې بدل شي چې هېڅکله نه مړه کېږي او زمونږ فاني بدنونه باید په نهفناکېدونکي
بدنونو باندې بدل شي. ۵۴ نو بیا کله چې زمونږ مړهکېدونکي بدنونه په داسې بدنونو باندې بدل
شي چې هېڅکله نه مړه کېږي، نو څه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي هغه به رښتیا شي:

مرګ نابود شوی او بری دی کامل شوی

۵۵ ای مرګه، ستا بری او فتح څه شوه؟

ای مرګه، هغه نېش وهل دې څه شول؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۶ د مرګ نېش ګناه ده او د ګناه قدرت شريعت دی. ۵۷ خو د خدای شکر دی چې هغه مونږ
ته زمونږ د څښتن عيسی مسيح په وسيله بری راکوي.

۵۸ نو ای ګرانو خويندو او ورونو، ټينګ او ثابت اوسئ. تل د څښتن په کار کې بوخت اوسئ،
ځکه تاسو پوهېږئ چې څښتن ته د خدمت په کولو کې ستاسو زحمتونه بې ګټې نه دي.

## د محتاجو ايماندارانو دپاره د مالي مرستو راټولول

۱۶ ۱ اوس د هغو مالي مرستو په هکله چې په يهوديه کې د خدای د خلکو دپاره راټولېږي،
خبرې کوم. لکه څنګه چې مې د غلاتيې کليساګانو ته لارښوونه کړې ده، نو تاسو هم په هغو باندې
عمل وکړئ. ۲ د هرې هفتې په لومړی ورځ دې ستاسو څخه هر يو د خپلې ګټې نه يوه اندازه
پيسې د ځان سره وساتي، نو کله چې زه درځم، د پيسو د راټولولو اړتيا به نه وي. ۳ کله چې زه
هلته درورسېږم، نو زه به هغو کسانو ته چې تاسو ته د باور وړ وي د پېژندګلوی د ليکونو سره ولېږم
چې ستاسو مالي مرستې اورشليم ته يوسي. ۴ که چېرې دا مناسبه وي چې زه هم لاړ شم، نو
هغوی به زما سره يوځای لاړ شي.

## د سفر دپاره د پولوس نقشه

۵ زه به د مقدونيې نه د تېرېدلو څخه وروسته تاسو ته درشم، ځکه زما نيت دی چې د مقدونيې
په لاره تېر شم. ۶ کېدای شي چې زه ستاسو سره پاتې شم او حتی ژمی ستاسو سره تېر کړم
ترڅو هرچېرې چې ځم، تاسو راسره په سفر کې مرسته وکړئ. ۷ ځکه زه نه غواړم چې يوازې
په لاره کې تاسو سره وګورم، خو زه په دې هيله يم که چېرې څښتن وغواړي، نو يو څه وخت به
تاسو سره تېر کړم. ۸ نو زه به د پنتيکاست تر اختره پورې د افسيس په ښار کې پاتې شم. ۹

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ماته د یو اغېزمن خدمت دپاره یوه لویه موقع راکړل شوې ده، که څه هم هلته ډېر خلک
شته چې زما سره مخالفت کوي.

١٠ کله چې تیموتاوس تاسو ته درشي، نو ګورئ تر هغې چې هغه ستاسو سره وي، باید هېڅ وېره
ورسره نه وي، ځکه لکه څنګه چې زه څښتن ته کار کوم هغه یې هم کوي.
١١ نو مه پرېږدئ چې
څوک هغه ته په سپکه سترګه وګوري. د هغه سره مرسته وکړئ چې په سلامتۍ سره خپل سفر ته
دوام ورکړي، ځکه چې زه د هغه او نورو ورونو راتللو ته سترګې په لاره یم.

١٢ زمونږ د ورور اپولوس په هکله باید ووایم چې ما هغه زیات وهڅاوه چې د نورو ورونو سره
ستاسو لیدلو ته راشي، خو اوس هغه بیخي دا اراده نه لري چې تاسو ته درشي. خو کله چې ورته
موقعه پیدا شي، نو تاسو ته به درشي.

## وروستي پیغامونه او سلامونه

١٣ بېداره اوسئ، په خپل ایمان کې ټینګ اوسئ، زړور او قوي اوسئ.
١٤ تاسو چې هرڅه
کوئ، هغه په مینه کوئ.
١٥ ای خویندو او ورونو! تاسو پوهېږئ چې استیفان او د هغه کورنۍ په
جنوبي یونان کې لومړني ایمانداران وو چې خپل ځانونه یې د خدای د خلکو خدمت ته وقف کړل،
نو زه ستاسو نه په کلکه غوښتنه کوم
١٦ چې د داسې خلکو او هر هغه چا تابعداري کوئ چې
ستاسو سره همکاري کوي او زحمت وباسي.

١٧ زه د استیفان، فرتوناتوس او اخاییکوس په راتللو خوشحاله یم، ځکه چې هغوی ستاسو په
نشتون کې زما سره مرسته کوله.
١٨ ځکه چې هغوی هم زما او هم ستاسو روح تازه کړ. نو د
داسې خلکو قدر کوئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د اسیا کلیساګانې تاسو ته سلامونه وايي. اکیلا او د هغه ښځه پریسکیلا او هغه نور کسان چې
د هغوی د کور په کلیسا کې سره راټولیږي، تاسو ته د څښتن په نوم د زړه له کومي سلامونه وايي.
۲۰ ټولې خویندې او ورونه چې دلته دي، تاسو ته سلامونه وايي. په پاکه مینه یو بل ته په ښکلولو
سره سلام ووایئ.

۲۱ زه پولوس په خپل لاس تاسو ته دا سلام لیکم. ۲۲ څوک چې د څښتن سره مینه نه کوي،
په هغه دې لعنت وي. ای زمونږ څښتنه، راشه. ۲۳ د څښتن عیسی فضل دې وي په تاسو باندې.
۲۴ زما مینه دې په عیسی مسیح کې تاسو ټولو سره وي.


afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.